# أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِي، وَأَنَا مَعَهُ حِينَ يَذْكُرُنِي

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم وايې چې:
«يَقُولُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِي، وَأَنَا مَعَهُ حِينَ يَذْكُرُنِي، فَإِنْ ذَكَرَنِي فِي نَفْسِهِ ذَكَرْتُهُ فِي نَفْسِي، وَإِنْ ذَكَرَنِي فِي مَلَإٍ ذَكَرْتُهُ فِي مَلَإٍ خَيْرٍ مِنْهُ، وَإِنِ اقْتَرَبَ إِلَيَّ شِبْرًا، تَقَرَّبْتُ إِلَيْهِ ذِرَاعًا، وَإِنِ اقْتَرَبَ إِلَيَّ ذِرَاعًا، اقْتَرَبْتُ إِلَيْهِ بَاعًا، وَإِنْ أَتَانِي يَمْشِي أَتَيْتُهُ هَرْوَلَةً». «الله جل جلاله فرمايي: زه د خپل بنده د باور سره يم (چې زما په اړه يې لري) او زه د هغه سره يم کله چې ما يادوي، که چېرته يې له ځان سره ياد کړم؛ زه به يې هم له ځان سره ياد کړم، او که چېرته يې په ډله کې ياد کړم، زه به يې له هغه څخه په غوره ډله کې ياد کړم، او که چېرته ماته يوه لويشت رانيږدې شي نو زه به يوه ښنګل ورنږدې شم، او که چېرته ماته يوه ښنګل رانږدې شو نو زه به د دواړو لاسونو په اندازه چې خلاص وي ورنږدې شم، او که هغه ماته په مزل راشي زه به ګړندی ورشم».

[صحيح] [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم وايې چې الله جل جلاله فرمايي: زه زما په اړه د خپل بنده د باور سره يم، له بنده سره زما په اړه د هغه د ګمان مناسب برخورد کوم؛ په هيله مند او د بخلو په تمې، او هغه ته به ورسره کوم چې زما څخه يې د خبر او يا بل څه تمه لري؛ او زه له هغه سره په رحمت، بريالیتوب، لارښوونې، پالنې او ملاتړ سره يم که هغه زما يادونه وکړي. که له خپل ځان سره يې يوازې په سبحان الله، لا اله الا الله او داسې نورو سره ياد کړم، زه به يې هم له ځان سره ياد کړم. او که چېرته يې په ډله کې ياد کړم؛ زه به يې له هغوی په لويه او پاکيزه ډله کې ياد کړم. او څوک چې الله تعالى ته د يوې لويشتي په اندازه ورنږدې شي، الله تعالى به يې (نږدېوالی) زيات کړي او د يوې ښنګلې په اندازه به ورنږدې شي. او که چېرته بنده د ښنګلې په اندازه ورنږدې شي، هغه به د خلاصې غېږې په اندازه ورنږدې شي. او که الله تعالى ته په مزل سره ورشي، هغه به ګړندی ورشي. که بنده خپل رب ته د هغه په اطاعت او رجوع کولو سره ځان نږدې کړي، نو لوی ښښتن به د هغه عمل ته په ليدو زيات ورنږدې شي، ځکه چې بدله د عمل له جنس څخه ده. نو هر څومره چې د خپل رب په وړاندې د مؤمن بندګي بشپړېږي، ښښتن تعالى ورته ورنږدې کېږي، نو د الله ورکړه او ثواب د بنده له عمل او کړاو څخه زيات دی، پايله دا چې د الله تعالى ثواب پر عمل د څرنګوالي او اندازې له اړخه غالب دی. نو مؤمن نيک ګمان کوي، عمل کوي، ګړندی کېږي او همداسې مخ پر وړاندې ځی تر دې چې د الله سره مخ شي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3636

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee